# د تاوتریخوالي له جرم وروسته، CalVCB کولی شي ستاسو د بیلونو په ورکولو کې مرسته وکړي

CALIFORNIA
CalVCB
VICTIM COMPENSATION BOARD

## CalVCB څنګه مرسته کولی شي؟

- هغه قربانیان چې د فزیکي ټپ یا د فزیکي ټپ د ګواښ له امله احساساتي زیان ویني، ممکن د مرستې لپاره وړ وي.
- CalVCB له قربانیانو سره مرسته کوي چې د جرم اړوند هغه لګښتونه ورکړي چې د نورو هېڅ سرچینې له خوا نه وي پوښل شوي.
- کله چې غوښتنلیک ومنل شي، قربانیان تر 70000 ډالرو پورې د مرستې مستحق کیږي. ځینې د ګټو محدودیتونه ممکن پلي شي.

## څوک د مرستې وړ دی؟

CalVCB کولی شي له قربانیانو او د هغوی له کورنیو سره مرسته وکړي کله چې جرم په کالیفورنیا کې رامنځته شي، یا کله چې د کالیفورنیا له یوه اوسېدونکي سره په بل ایالت یا بل هېواد کې جرم وشي. د غوښتنلیک د ورکړې لپاره د متحده ایالاتو تابعیت اړین نه دی.

قربانیان کولی شي د جرم له نېټې څخه د اوو کلونو په موده کې غوښتنلیک ورکړي، یا د هغه وخت څخه چې قرباني پوه شي یا معلومه کړي چې ټپ یا مرګ د جرم له امله رامنځته شوی، د اوو کلونو په موده کې غوښتنلیک ثبت کړي. هغه قربانیان چې عمر یې 21 کاله یا کم وي، تر خپل 28 مې کلیزې پورې د غوښتنلیک ورکولو وخت لري.

## زه څنګه غوښتنلیک ورکړم؟

په **victims.ca.gov** ویبسایټ کې آنلاین غوښتنلیک ورکړئ.

د قربانیانو **مدافع** کولی شي له تاسو سره د غوښتنلیک په ورکولو کې مرسته وکړي. ویبسایټ **victims.ca.gov/get-help** ته لاړ شئ او خپل کاونټي داخل کړئ.

**موږ د لاندې مواردو قرباني شویو کسانو سره مرسته کوو:**

- برید
- د ماشومانو ناوړه چلند
- کورنی تاوتریخوالی
- د نشې (شرابو) تر اغېز لاندې موټر چلول
- د زړو کسانو سره ناوړه چلند
- د کرکې جرایم
- وژنه
- د انسانانو قاچاق
- غلا
- جنسي تېری
- ځارنه او ځورول
- *...او نور جرایم*

**موږ کولی شو د لاندې لګښتونو په ورکړه کې مرسته وکړو:**

- مشوره
- د جنازې او تدفین لګښتونه
- د عاید له لاسه ورکول
- طبي او د غاښونو درملنه
- کډه کول
- د استوګنې امنیت
- *...او نور لګښتونه*

**victims.ca.gov**
**پُستي صندوق Box 3036**
**Sacramento, CA 95812**

*د اورېدو د ستونزو لرونکو او د اورېدو د کمزورۍ لرونکو کسانو لپاره: د کالیفورنیا د ریلې خدمت ته په 711 شمېرې زنګ ووهئ.*






*05/2026 [PAS]*